مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۸/۱۴

# د واده او د اولاد د پیدا کولو لپاره کوم وخت مناسب دی؟

پخوا په افغانستان کې عسکري جبري وه، هر زلمی به د عسکري مکلفیت دوره تېروله. هاغه مهال به خلکو معمولاً زامنو ته تر هغو پورې چې عسکري يې نه وه تېره کړې، وادونه نه کول. د نجونو کورنيو به هم له مرکې والا څخه همدا پوښتنه کوله چې: زوی دې عسکري خلاصه کړې ده که نه؟
وروسته چې د ښارونو اوسېدونکي د تحصيل په اهميت او قدر پوه شول نو د لور د ورکولو لپاره به يې يو شرط دا هم و چې هلک بايد پوهنتون ويلی وي، ډېرو وګړو به محصل ته هم لور نه ورکوله، ويل يې له درسه به پاتې شي. موږ د تنظيمي جګړو او د طالبانو په کلونو کې محصلان وو. ځينو ټولګيوالو مو هماغه مهال وادونه کړي وو. دا نو داسې وخت و، چې د ډوډۍ پيدا کول ډېر ګران وو نو دغو ملګرو مو تر موږ سختې ورځې لرلې، له يوې خوا تحصيل او درسونه او له بلې خوا د کورنۍ نفقه.
زموږ خلک چې معمولاً په خپل ژوند چندان باوري نه دي، هڅه کوي زامنو ته ژر ناوې راوړي چې د نړور ارمان يې په زړه کې پاتې نه شي. يو نيم سړی چې په وس کې ښه دی، هغه هم د لمسيو د لرلو شوق ژر پوره کوي. ځينې خلک بيا د نيستۍ په وجه تر ډېره عمره واده نه شي کولی، دوی کلونه کلونه مسافري کوي، پيسې ګټي، د واده خرڅ برابروي بيا راځي چې واده وکړي.
خو په ټوله کې زموږ اکثره ځوانان د اتلس او پنځه ويشت کلنۍ په عمر د مېرمنې خاوندان کېږي. تقريباً ټولې کورنۍ غواړي د واده په هماغه لومړي کال د اولاد ښتن شي. د ځوانۍ په پيل کې انسان لکه توپاني سمندر له شور او احساساتو ډک وي، احساسات د عقل مخه نيسي. د ماشوم پالنه داسې چاره ده چې ډېره حوصله غواړي. په دې وخت کې مور او پلار ته بويه چې خپل احساسات کنټرول کړي او خپل اولادونه سم وروزي. دا چې زموږ اکثر وګړي خشن دي او په نه خبره غوسه کېږي، يوه وجه يې دا ده چې ميندې پلرونه يې په ځوانۍ کې د اولاد ښتن شوي. دوی د اولادونو روزنې ته پوره پام نه دی کړی، بې حوصله ګۍ يې کړې ده، ماشومانو سره يې مينه نه ده کړې، سوک څپېړې يې ورکړې دي او دا هر څه د ماشوم په اعصابو باندې اثر کوي.
همدا وجه ده چې غربيان معمولاً له دېرش کلنۍ په پورته عمر کې د واده په فکر کېږي. دوی تر زده کړو وروسته ښه عمر کار کوي او د ګډ ژوند لپاره پيسې برابروي بيا واده کوي. دوی که لږ وختي غونډې هم واده وکړي بيا تر ډېرو کلونو پورې اولاد نه راوړي. دوی معمولاً د اولاد شوق هغه وخت کوي چې روزلو ته يې کافي تياري ولري. دوی معمولاً مخکې تر دې چې ماشوم وزېږوي، د ماشوم روزنې په اړه يو دوه کتابونه لولي.
البته غربيان د جنسي غريزې د ارضا کولو ستونزه نه لري، که واده هر څومره وځنډوي نو غم يې نه وي خو زموږ پېغلو ځوانانو ته دا هم يوه مساله ده. زموږ وګړي د خپلو غرايزو د رفع کولو لپاره يوازې همدا مشروع لاره په مخ کې لري چې واده وکړي.
چې داسې ده نو پوښتنه پيدا کېږي چې د حل لاره څه ده؟ څه مهال واده وکړو او کله اولاد پيدا کړو؟
زما په ګومان غوره به دا وي چې زموږ زلمي او پېغلې نسبتاً ژر واده وکړي خو د اولاد لپاره بايد کافي صبر ولري. دا سمه ده چې اکثره کورنۍ ګډ ژوند لري، له واده وروسته کلونه له پلار او ورونو سره په يوه دسترخوان تېروي نو زوم او ناوې به ډېر د ډوډۍ په فکر کې نه وي خو بيا هم هر ماشوم د يوه لوی انسان په اندازه مصرف لري. که سړی هغه وخت اولاد پيدا کړي چې د پيسو په لحاظ پر خپلو پښو ولاړ وي نو دا به يې په ګټه وي. له بلې خوا تر واده وروسته پنځه شپږ کاله ځنډ انسان د احساساتو له سمندره د عقل ساحل ته رسوي. وروسته بيا کولی شي اولاد پيدا کړي او سم يې وروزي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ